

"یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!"
ژباړه: فرهاد ویاړ
لیو هو ـ لان

**"یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!"**
**لیوهو – لان**
**انځورگر: منگ چینگ – چیانگ**
**ژباړه: فرهاد ویاړ**
**خپرندویه : سیند خپروندویه**
**وب لاگ:ketabtoon.blogspot.com**

## داستان

**ليوهو- لان** د چين **شنسي** ولايت د **دن شوي** ايالت **په يوان چوهسي** کلي کې نړۍ ته راغله. هغه د جګړې د فشار په کلونو کې ژوند کاوه. ليوهو- لان د کمونيست ګوند د رهبرۍ په مرسته او د **مائوتسه دون** د اند په زده کړو سره د يوې معمولي کليوالې انجلۍ څخه په يوې پرولترې مبارزې بدله شوه. هغې په دښمن څه پروا نه کوله او له مرګه نه ډاريده. ليوهو- لان په ۱۹۴۷ کې، په داسې حال کې چې د يوې کمونيستې ارزښتمن خصوصيتونه يې پيدا کړي و، خپل ژوند د ګوند او ولس لپاره قربان کړ. که څه هم ژوند يې لنډ و، خو د هغې انقلابي روح تلپاتې دی. **صدر مائو**، د چين د ولس ستر لاربښود، ليوهو-لان په دې وينا وياړله:

## "يو ستر ژوند! يوه پرتمينه مړينه!"



دلته د **ون شوی** ایالت د **یوان چوهسي** کلی دی چې په **شنسي** ولایت کې واقع شوی دی. له آزادۍ مخکې، د دې ځای د کلیوالو ژوند په بیوزلۍ او نیستی کې تیریده. د جاپاني ضد جګړې په موده کې، د اتم ستون پوځ د **صدر مائو** په رهبرۍ دلته راغی او د خلکو لپاره پناه او ملاتړ وګرځید.



ډیر ژر د **کمونیست ګوند** تر رهبرۍ لاندې، د **ون شوی** په ایالت کې د جاپان ضد یو دموکراتیك حکومت جوړ شو، چې **کویونګ – تي ین** د ګوند یو تن غړي د هغه مشري کوله. یوه ورځ ملګري **کو، یوان چوهسي** ته راغی چې د جاپانیانو د تیري په وړاندې د مقاومت او ملت د ژغورنې په اړه د **صدر مائو** لارښودنې تشریح کړي. او د تیري کوونکو په وړاندې د مقاومت لپاره ځایي خلك راغونډیدو ته راوبلي. **لیوهو- لان** د

ملګري **کو** څخه ډېرې پوښتنې وکړې. ملګري **کو** د څو انقلابي داستانونو په ویلو سره، د **هو- لان** او د ملګرو ځوابونه ورکړل.



وروسته له هغې چې ملګرې **کو،** دې سیمې ته راغی، په **یوان چوهسي** کې د کروندګرو یوه اتحادیه او د ماشومانو یو لښکر جوړ شو، او  د استقامت لومړني کارونه پیل شول. د **اتم ستون پوځیان** به اکثراً د کلیوالو لیدنې ته راتلل او کوچنۍ **هو- لان** له هغوی غوښتل چې ورته د ډېرو داستانونو کیسې وکړي. ځینو مبارزینو د **صدر مائو** په رهبرۍ د سره پوځ د **ستر لاریون،** او ځینو نورو د جګړې د ډګر له اتلانو څخه غږېدل. لیوهو- لان د صدر مائو سره مینه لرله او اتلان یې ستایل. له ځان سره به یې ویل: "هر کله چې لویه شم، د اتم ستون له پوځیانو سره به یوځای شم."



کله چې لیوهو- لان لس کلنه شوه، د ماشومانو له لښکر سره یوځای شوه. دښمن د دې لپاره چې کار یوې خواته کړي، تل یې پر خلکو برید کاوه. هو- لان به اکثراً خپله نیزه اخیستله او پهره به یې کوله او ملګرې یې **یو- مي** به هم صحرایي سابه راټولول.



یوه ورځ سهار، د **لیوهو- لان** ناڅاپي پام شو چې یوه ډله مرغان له هغه واټ څخه چې د دښمن د مورچل له نژدې تیریده، هوا ته الوزي او له لیرې یې جاپاني سرتیري ولیدل چې د راتګ په حال کې دي، له ځان سره یې فکر وکړ : "د کلي کدرونه د بوډا **تین** په کور کې سره راټول شوي دي. باید هلته لاړه شم او هغوې خبر کړم." په همدې وخت کې ناڅاپي له شا یې یو سړي راښکاره شو او تپوس یې وکړ: "د بوډا **تین** کور چیرې دی؟" لیوهو- لان په هغه سړي شك وکړ، خو له هغه ځایه چې جاپانیان رانژدې کیدل، مخامخ یې اشاره وکړه او وې ویل: "هلته ژوند کوي."



هو- لان ژر منده کړه څو د دې موضوع راپور ورکړي. کدرونو ژر خپل اسناد پټ کړل او د خطر د رفع کیدو تر وخته پورې غرونو ته وختل.



د کلي څخه د کدرونو له تګ څخه لا زيات وخت نه تيريدو، چې هغه خائن سړی چې هو – لان هغه په غره کې ليدلي و، تيري کوونکي يې د بوډا **تين** کور ته بوتلل. جاپانيانو چې هلته هيڅوك پيدا کړي نه وو، دا خائن يې تر وهلو لاندې ونيو. خو جاپانيان، خپلو مورچلونو ته د ستنيدنې پر وخت د کلي مبارزينو لخوا تر بريد لاندې راغلل. هغه ماينونه چې مبارزينو کرلي وو، د هغو ډيرې يې ووژل او پاتې يې وتښتيدل. هو- لان د جاپانيانو په وړاندې د مبارزې له امله مشهوره شوی وه.



لیو- هولان د دې لپاره چې د جاپاني تیري کوونکو په وړاندې مبارزه کې ډیره مرسته وکړای شي، زیاته هڅه یې کوله چې لوستل او لیکل یاد کړي او وکړای شي جاپاني ضد سرودونه ووایي. همدا ډول هغې په نژدې کلیو کې د دښمن ضد تبلیغات کول او په کور کې خپلې کوچنۍ خور ته لوستل ورزده کول.



جاپاني غليمانو ايالتي ښار اشغال او په يوه پياوړي سيمې بدل کړ. هغوی هر ځای ته اور اچو، لوټ يې کاو او خلك يې ډير زيات ځورول. د اتم ستون پوځيانو به معمولاً مخکښان ايالتي ښار ته ليږل چې د دښمن د مرچلونو په اړه معلومات راغونډ کړي. دا کار د دې لپاره کيده چې پر دښمن يرغل وکړي او هغوی نابود او ښار آزاد کړي.هو-لان هم يوځل د يو مخکښ سره لاړه چې د دښمن د مرچلونو په پيژندنې کې له هغه سره مرسته وکړي.



د اتم ستون پوځ، د هغو اطلاعاتو په مرسته چې لاس ته يې راوړي وو، ډير ژر د ون شوی ایالتي ښار آزاد کړ. کلیوالو د ډهل او شپیلۍ په غږولو سره دا بریا ولمانځله. هو – لان او ځوانو ملګرو یې د یوې ټوکرې کجورو سره د اتم ستون د پوځیانو هر کلی وکړ.



د ۱۹۴۵ کال د اکتوبر په مقاومت جګړه کې له بریا وروسته، هو- لان د ښځینه کدرونو د زده کړې په ټولګیو کې شامله شوه. دا ټولګي د ګوند د ایالتي کمیټې لخوا جوړ شوی وو. سره له دې چې هو- لان ډیره کمه ښوونځي ته تللې وه، خو زیاته مطالعه یې کوله.



لیو- هولان د ګوند او صدر مائو سره مینه لرله او هوډ يې کړی و چې یوه کمونیسته شي. هغه چې په جګړې او  په یوه بی پایه طبقاتي مبارزې کې روزل شوی وه، د کمونیست ګوند د آزمایښتي غړی په توګه ومنل شوه. هغې د ګوند د بیرغ په وړاندې لوړه وکړه چې:"هیڅکله به د ستونزو په وړاندې ماته و نه منم او دښمن ته به تسلیمه نشم. د خپل ټول طاقت سره به د کمونیزم لپاره مبارزه وکړم."



د زده کړې د دورې پای ته رسیدلو وروسته، هو- لان همغې کلي ته ستانه شوه چیرې چې د میرمنو تر منځ یې تبلیغات کول. د ولسونو په ملاتړ او د ګوند د اعتماد له امله، لیو- هولان د میرمنو د ټولنې مشرې ته وټاکل شوه او د انقلابي کارونو په موخه یې د میرمنو د سمبالنې لپاره زیاتې هلې ځلې پیل کړې.



د ۱۹۴۶ کال په مې میاشت کې، د ګوند مرکزي کمیټې د اعلام سره سم، ارضي رفرم پاې ته ورسید. بیوزله او کم عایده بزګران، د ټولو مخې ته د اربابانو د جنایتونو د محکمولو د خبر په اوریدلو سره، ډیر زیات خوشاله شول. د اربابانو ځمکې وویشل شوی او د فئوډالۍ زبیښاکګر سیستم ړنګ شو. په کلي کې داسې یو میټنګ جوړ شو چې په کې شي تینګ – هیوای، د کلي ارباب محکوم کړي. خو، د دهقانانو د اتحادیې منشي شي وو – تسه، ، چې ځان یې ارباب ته خرڅ کړی و، د هغه جمبه وکړه. لیو هو- لان، شي وو- تسه ته دلایل راوړل او د هغه په وړاندې مبارزې ته ودریدله.



هو- لان د نورې آګاهۍ د حاصلولو لپاره، د بيوزلو کليوالو کورنيو ليدنې ته تلله. هغې د کاکا **لي** په کور کې د ارضي رفرم په اړه د ګوند سياست تشريح او هغه يې وهڅو چې په ميټنګ کې وينا وکړي ا و د هغو رنځونو او کړاونو څخه خبرې وکړي چې د ارباب **شي تينګ – هيواى** په کروندو کې زغملي دي.



په میټنګ کې کاکا **لي** په قهرجنتیا سره ارباب محکوم کړ. خلك قهرجن شوي وو او د "مړ دې وي ارباب شي تینګ – هیو ای" فریادونو ټول کلی ډك کړی و.



د ارضي رفرم بریالیتوب د ولسونو سیاسي شعور نوي کچې ته لوړ کړ. ځوانان ډله ډله له پوځ سره یوځای کیدل، او لیوهو- لان میرمنې سمبالولې چې د غلې په برابرولو، د بوټانو ګنډلو او په اوبدلو سره له جبهې ملاتړ وکړي.



په ۱۹۴۶ کال کې، **چانګ کای – شک** د امریکا امپریالیزم په حمایت سره، کورنۍ جګړه په لاره واچوله. کله چې انقلابي ځواکونو د **تانګ چوانګ** په کلي کې دښمن کلابند کړی و، لیوهو- لان او څو نورو میرمنو پوځیانو ته اوبه او ډوډۍ وړله او د ټپیانو د ژغورنې لپاره په زړورتیا سره د دښمن د ډزو مخې ته ودریدل. کله چې به مهمات کمیدل، هغې به جبهې ته د مهماتو د رسولو لپاره له میرمنو څخه مرسته غوښتله.



دښمن هغه کلي ته نژدې مورچلې جوړې کړی وی، چیرې چې هو- لان ژوند کاوه. ګوندي څانګې پریکړه کړی وه چې د کلي ډیری کدرونه پوځي اډې ته لاړ شي او کم شمیر  کسان د مبارزې لپاره، د جبهې شا ته پاتې شي. هو – لان ته وویل شول چې جبهې ته لاړه شي، څه چې هغې په خپله هم غوښتل. خو کله چې هغې هغه خونړۍ مبارزې ته فکر وکړ چې په پام کې وه په کلي کې یې تر سره شي، اجازه یې وغوښتله چې د جبهې شا ته پاتی شي. ګوندي سازمان د دې غوښتنې سره خپل موافقت اعلام کړ.



وضعيت په کلي کې لا خراب شوی و. مزدورانو تل پر کلي باندې برید کاوه. لیوهو-لان یو وسله وال ټیم ته غړي نیول. دې ټیم د دموکراتیکې واکمنتیا لپاره، پر وسله والې مبارزې ټینګار کاوه.



**شي تينګ – هيواى**، د کلي د ټوقمارو مشر شوى و. هغه «مخ په وړاندې د کور په لور» د وسله والو اربابانو، سرکرده و. د غچ اخيستنې او د چانګ کاى – شک ارتجاعي پوځ ته د پيسو او غلې دانې د راټولو لپاره يې کوښښ کاوه. هغوى همدا ډول د کومينداګ لپاره جاسوسي کوله. د شي تينګ – هيواى د قومندې تر لاندې د زميندارانو لښکرګي د کلي کدرونه نيول او د هغوې د کورنۍ غړي يې وژل. ليوهو- لان د ارباب د ځناورتوب په اړه ولسي ايالتي دولت ته راپور ورکړ. ارباب **شي** د ولسونو د غوښتنې له امله ډير ژر ونيول شو او اعدام شو.



د ولسي دولت لخوا د ارباب د اعدام د خبر اعلامیه لیوهو- لان او د دښمن په زړه کې د کاري ټیم غړو په دیوال ووهله او ځیني شعارونه یې هم ولیکل. د هغوی دې کار، او شعارونو، د دهقانانو مورال پیاوړی او د دښمن د غرور باد یې تش کړ.



يوه ورځ سهار، دښمن ناخاپي کلی کلابند او ځو تنه کدرونه يې ونيول. **شي وو – تسه** هم د نيول شويو په منځ کې و. شي، ګوند ته خيانت وکړ او خپل ملګري يې دښمن ته ښکاره کړل. ليو هو- لان د دې خبرې په اوريدو سره، په پټه د نورو کدرونو سره وليدل ځو د دې اقدام په اړه، اړينه پريکړه وکړي.



وضعیت لا خطرناک شو. ګوندي ځانګې له هو- لان ځخه وغوښتل چې غره ته لاړه شي – هغوې غوښتل چې له هغې سره په اړیکه کې ووسي. سبا سهار چې هو- لان د تګ چمتوالی لرو، کلیوال د هغې په کور کې سره راغونډ شوي وو.



د ډهل د غږ د ودریدلو وروسته، د یوه فرمان آواز تر غوږ شو: « د کلي ټول سړي، ښځې او ماشومان باید د معبد مخې ته راغونډ شي.» دښمن کلی کلابند کړی و.



هو- لان چې نور نشو کولای چیرې لاړه شي، ژر یې د ګوند ټولو اسنادو ته اور واچو او له منځه یې ویوړل. مور یې هغه اړه کړه چې د هغه ګاونډي کور ته پناه ویسي چې نوی یې ماشوم نړی ته راوړی و.



لیوهو- لان، نور کلیوال هم ولیدل چې هلته راغونډ شوي وو. د ډهل غږ شیبه په شیبه لوړیدو. هغې د دې لپاره چې داسې  نه چې شتون یې د دې کورنۍ او نورو کلیوالو د نارامۍ لامل شي، ژر یې هغه ځایه خوشې کړ.



ډېره واوره وريدلې وه، او سوړ شمالي باد د هغو کليوالو هډوکي سوځول چې د معبد مخې ته د دښمن لخوا شا ته ټيله کېدل. دښمن د ټوپک شپېلۍ کليوالو ته په نښه کړې وه او هغوی يې ګواښل چې ليوهو- لان دې تسليمه کړي. خو هغوی دا غوښتنه ونه منله.



لیوهو- لان هغه قسم چې له ګوند سره کړی و، رایاد کړ چې هغه به هیڅکله دښمن ته تسلیمه نشي او په دې سره لا زړوره شوه. د دې لپاره چې خلک وژغوري، د خلکو له منځه راووتله او د دښمن په وړاندې په زړورتیا سره ودریده. دښمن د اقرار اخیستلو لپاره هغې ته د رشوت وړاندیز وکړ او هغه یې ډیره شکنجه کړه، خو هغې په کلکه ویل: «تاسو کولای شی ما ووژنئ، خو هیڅکله نشی کولای له ما اقرار واخلئ.»



هو- لان خپلې مور ته ورستنه شوه. د هغې په سترګو کې اوښکې نه، بلکې یوازې د دښمن څخه کرکه ښکاریده. هو- لان وویل: «موری مه ژاړه، تر هغه وخت پورې مبارزه وکړه چې په ټول هیواد کې سور بیرغ په رپیدو شي!»



هو- لان بی له ویرې د دښمن په وړاندې د دفاع په حالت کې ودریده. مستنطق چیغه کړه:«لا شپاړس کلنه نه یې، خو دومره ډیره غرېړۍ!... په کلي کې نور څوک کمونیستان دي؟ خبری وکړه! که خبرې ونکړۍ وژنم دی! د وژلو څخه نه ډارېږی؟»

خو، هو- لان په کلکه ځواب ورکړ:«که ډاریدی نو کمونیسته به نه وی!»



لیوهو- لان یې د اعدام میدان ته ویوړه. هغې هلته خپل شپږ نور ملګري هم ولیدل چې د هغې مخکې یې هلته راوستي وو. دې زړورو هم، مرګ د تسلیمیدنې پر ځای پټییله و. دښمن د قمقم سره د شپږو واړو سرونه له تنه جدا کړل او د شهیدانو وینه پر ځمکه وبهیدله. هو- لان د قهر په اور کې سوځیده. دښمن هغې ته ورغی او چیغه یې کړه:«خبرې کوئ یا نه؟»

- «زه به هیڅکله هم تسلیمه نشم. تاسو هیڅکله نشی کولای ټول کمونیستان ووژنی. تاسو هیڅ کله نشی کولای د انقلاب سپرغی ووژنی!» دا د لیوهو- لان یوازینی ځواب و.



وحشي دښمن کليوالو ته دستور ورکړ چې هو- لان ووهي، خو هغوی نه يوازې چې له دې دستور څخه سرغړاونه وکړه، بلکې لاقهر جن شول. دښمن چې ناهيلی شوی و، چيغه کړه:"دوې ټول په مردکيو ووژنئ!" په دې وخت کې هو- لان مخې ته راغله او آمرانه يې وويل: "نه! تاسو نشی کولای کليوال ووژنئ. ما ووژنئ. "



لیوهو- لان د اعدام په میدان کې لکه چنار سیده ودریدلې وه. په داسې حال کې چې دښمن ته یې په قهر کتلې، فریاد یې کړی: "ووایئ چې زه څنګه مړه شم. " او بیا په داسې حال کې چې پر خپلو ویښتو یې لاس وهو د آخري ځل لپاره یې کلیوالو ته وکتل او وې ویل: "ګرانو دهقانانو، د تل لپاره پدرود! مبارزې ته ادامه ورکړئ! "



ليوهو- لان بی له کوم ځنډه د شپږو نورو شهيدانو شاته ودروميدله. هغه په داسې حال کې چې د قمقم د دستګاه لورې ته روانه وه له کليوالو يې غوښتل چې ژړا او زاري ونکړي. هو- لان هغوې ته وويل: "دښمن به زيات عمر ونکړي. بريا زمونږ ده. ژوندې دې وي د چين کمونيست ګوند! ژوندې دې وي صدر مائو! "



د لیوهو- لان د مرګ اولس کاله وروسته، آزادي غوښتونکي پوځ، د ون شوی ایالت آزاد کړ. ملګري يې د غمژونو زړونو سره د اوو شهيدانو د اعدام ميدان ته لاړل او په داسې حال کې چې هغه خاوره چې د هغوی په وينو لت پت شوی وه، راپورته کوله او ژړل يې، فرياد يې کړی: " مړ دې وي چانګ کای – شك! تول هيواد آزاد وو! د شهيدانو غچ اخلو! "




په ۱۹۴۹ کې، هغه څرك چې د ليوهو- لان او د نورو شهيدانو هيله وه، وځليد او د چين د خلکو آزادي عملي شوه. د هو- لان له مرگ وروسته بی لـه ځنډه ګوندي ښانگې هغه په خپل غړيتوب ومنلـه. وروسته، د چين ستر لارښود، صدر مـائو، د هغې يـاد پـه دې ليکنې سره ووياړ: **"يو ستر ژوند! يوه پرتمينه مړينه! "**



د اتلې لیوهو- لان مجسمه، د تل لپاره د چیني ولس په زړونو کې ژوندې پاتی شوه، او د هغې انقلابي روح به د هغوې د مخ په وړاندې  لارې کې د تل لپاره الهام بخښونکی وي.

"سیند خپروندویه" خپاره کړي دي:

۱. د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه – فرهاد ویاړ
۲. دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قرباني، ژباړه – مرینه سحر
۳. د یوه شاعر اندیښني، احمد شاملو، ژباړه – فرهاد ویاړ
۴. یو شعر چې کرکه ده، پاځون دی او انتقام، سپیڅلی
۵. مور مې ښکلي نشوه، رضا فرمند، ژباړه – فرهاد ویاړ
۶. مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا. لنین، ژباړه – هاشم سهار

دېر ژر:

## ویکتور خارا، د انقلاب سندرغاړی


**لیوهو- لان** د چین **شنسي** ولایت د دن **شوي** ایالت په **یوان چوهسي** کلي کې نړۍ ته راغله. هغه د جګړې د فشار په کلونو کې ژوند کاوه. لیوهو- لان د کمونیست ګوند د رهبرۍ په مرسته او د **مائوتسه دون** د اند په زده کړو سره د یوې معمولي کلیوالې انجلۍ څخه په یوې پرولترې مبارزې بدله شوه. هغې په دښمن څه پروا نه کوله او له مرګه نه داریده. لیوهو- لان په ۱۹۴۷ کې، په داسې حال کې چې د یوې کمونیستې ارزښتمن خصوصیتونه یې پیدا کړي و، خپل ژوند د ګوند او ولس لپاره قربان کړ. که څه هم ژوند یې لنډ و، خو د هغې انقلابي روح تلپاتی دی. **صدر مائو**، د چین د ولس ستر لارښود، لیوهو-لان په دې وینا وویاړله:

"یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!"



۱۳۸۹

www.a... .com